پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۷/۲۹

# د نعمان دوست له نظره

## د نور محمد لاهو د شاعرۍ یو اړخ

د ژونديو يادول او د ښو کارونو لمانځنه اوس، اوس زموږ په قلموالو کې يو څه عامه شوې ده. پخوا به يوازې د وفات شوو فرهنګيانو په باب غونډې او سيمينارونه جوړېدل، خو اوس دا دی ژوندي هم يادېږي او د ښو کارونو، د اثارو د چاپېدو او تخليقي ــ څېړنيزو کارونو يادونه يې کېږي.

په همدې سلسله کې څو ورځې مخکې تکړه ليکوال، شاعر او ژورنالست ښاغلي نعمان دوست د خپل يو سيال او ملګري ليکوال شاعر او ژورنالست نور محمد لاهو د کارونو او شعرونو په باب خپل نظر څرګند کړی و. مخکې له دې چې هغه نظر را واخلم او څه پرې وليکم، لومړي د نعمان دوست او نور محمد لاهو د پېژندنې په باب څو خبرې:

**لومړی ــ نعمان دوست:**



ښاغلی محمد نعمان دوست د ويکيپيډيا په هنداره کې داسې ښودل شوی دی:

«محمد نعمان دوست د خيرالله زوی او د عبدالغفار لمسی دی. د زېږون تاټوبی يې د لغمان ولايت د الينګار ولسوالۍ د کوخي کلي د پاس کلا ځايګی دی. د هغه پلار کروندګر و او رسمي تعليم يې نه درلود خو د رحمان بابا شعرونه يې لوستلی شول او له استادانو سره يې ناسته ولاړه وه. دوست لا ډېر کوچنی و چې د پلار مړينې يې هغه د پلرنی مينې نه بې برخې کړ. په ماشومتوب کې د کورنۍ له نورو غړو سره پاکستان کې کډوالۍ ته اړ شوی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

محمد نعمان دوست (په انګرېزي: *Mohammad Numan Dost*) یو افغان لیکوال او خبریال دی. هغه د یو شمېر خبري آژانسونو سره د مطبوعاتي شنونکي او ایډیټر په توګوه کارونه کړي او د ځینو چاپي رسنیو مشر پازوال هم پاتي شوی. د هغه د کیسو یوه ټولګه او یوه د ادبي نثرونو ټولګه چاپ شوې چې د افغانستان د ځګرو، د خلکو بې وزلي او کړاوونه پکي په ښه توګه انځور شوي.

## زده کړې:

هغه د کډوالی په وخت کي پاکستان کي خپلي لومړنی زده کړې پیل کړې او د لومړي ځل لپاره د ابو سعید الخدري په نوم په یوه ښوونځي کي چې د جومات په منځ کي و شامل شوی. بیا په افغانستان کي د مجاهدینو د بري په شپو ورځو کي افغانستان ته ستون شوی د پاکستان په هریپور کیمپ کي له النصر لیسي څخه فارغ او بیا یې همدی هېواد کي د کانکور ازموینه ورکړه او د ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو او د دعوت او جهاد پوهنتون کي چې جلوزو کیمپ کي و په پوهنتوني زده کړو پیل وکړ. کله چې په ۱۳۷۴ ل. کال کي د دعوت او جهاد پوهنتون افغانستان ته کډه شو نو یو څه وخت وروسته د طالبانو واکمني راغله او د پوهنتون زده کړې په ټپه ودرېدې، خو بله غمجنه پېښه د دوست د مور مړینه وه چې د هغه د پوهنتوني زده کړو خنډ شو او تر یوه کاله تري لوړې زده کړې پاتي شوې. خو په ۱۳۷٦ ل. کال کي یې بېرته په کابل پوهنتون کي زده کړې پیل کړې او په ۱۳۷٦ ل. کال کي د ادبیاتو له پوهنځي فارغ شو.

## دندې:

د پوهنتوني زده کړو د بشپړېدو وروسته یې د افغاني سرې میاشتي ټولنې سره د نشراتو په ریاست کي د یوه مامور په توګه په کار پیل کړی بیا یو څه موده وروسته د مرکزي کتابتون امر او ورپسي د سره میاشت د جریدې مسوول مدیر پاتي شوی.

تر دې وروسته یې د IWPR سره د خبریال په توګه کار کړی او کله چې د پژواک خبري آژانس له IWPR څخه جلا شو نو بیا پژواک آژانس ته لاړ او هلته یې د ایډیټر په توګه تر اوو کالونو دنده پر مخ بېوله. وروسته له دې بیا NAI ته لاړ او هلته یې د خبریال ترېنر په حیث دنده ترسره کړې. د ترېننګ د کار وروسته یو ځل بیا د پژواک خبري آژانس سره د رسنیز شنونکي او سلاکار په توګه په دنده پاتي شوی. له دې سربېره یې بیلابیلو ویبپاڼو او چاپي رسنیو سره هم همکاري کړې ده.

## لیکوالي:

نعمان دوست له ډېري ورکیني لیکوالی سره لېوالتیا درلوده او لومړنی شعر یې په ۱۳٦۸ ل. کال کي د تره د زوی په وېر کي لیکلی. همدارز د پوهنځي په لومړي صنف کي د یتیم په نوم خپله لومړنی لنډه کیسه لیکلې.

## چاپ شوي آثار:

د هغه یو شمېر چاپ شوي آثار پدې ډول دي:

1. ترهګر - د لنډو کیسو ټولګه - چاپکال ۱۳۸۵ لمریز
2. په قتل پنېبمانه یم - د ادبي لیکنو ټولګه - چاپکال ۱۳۹۱ ل.
3. کرنیز اقتصاد - ژباړه د څوارلسمو ټولګیو لپاره درسي کتاب

لاسته راوړني:

نوموړی د یو شمېر رسنیو لخوا د ښه کارکردګی په خاطر نازول شوی او یو شمېر لقبونه یې خپل کړي.

- د بینوا پښتو ویبپاڼې له خوا د کال د غوره لیکوال لقب
- د مشرانو جرګې له خوا د فعاله ژورنالیست لقب
- د نی اداري، له خوا د غوره روزونکي لقب»

دا چې د نعمان دوست ژدکړې او ژوند په څه ډول و، دا جلا خبره ده، خو اوس دی د زحمتونو او کړاوونو په اور کي پوخ او داسي قلموال ورنه جوړ دی چې په زړورتیا سره ویلای شم: نعمان دوست د حساب وړ قلم چلوي. په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شعر، نثر، ژورنالیزم او د خلکو او نوي نسل د افکارو په رڼا کولو کې د ده لیکني، په تېره په ټولنیزو شبکو (فیسبوک کې ډېرې د حساب وړ دي، لوستونکي او لارویان لري.

**دویم نور محمد لاهو:**



د نورمحمد لاهو په باب ما پخوا هم یو څه لیکلي و، خو نه د ده د بیوګرافی او پېژندني په هکله، بلکې د ده د یوې غوښتنې په ځواب کې مې یو یاداشت او یو شعر خپور کړی و. د هغه یادداشت په یوه برخه کې داسي راغلي و:

«... **ښاغلي نور محمد لاهو** یا له تنګ زړه نه، یا په ټوکو او یا هم په رښتیا مینه ورکه کړې او د کرکې په ازغنه صحرا کې د مینې ګدایی کوي او مینه داسي ورنه ورکه ده چې اوس يې لا په پورغواړي:

« یوڅوک شته چې ما ته مینه په پور راکړي؟»

د لاهوصاحب ځواب به د هر چا د نظر، تجربې او سترګو لیدلي حال له مخې فرق سره کوي. ما خپل ځواب د یوه شعر په قالب کې ورته لیکلی دی.»

د نور محمد لاهو په بیوګرافی پسې مې هم ويکيپيډيا ته سر ورښکاره کړ، هلته د ده بیوګرافي ډېره په تفصیل سره اېښودل شوې وه چې زه يې دلته لنډيز را اخلم:

«نور محمد لاهو پر ۱۳۴۹ لمریز کال په کابل کې نړۍ ته سترګې غړولي دي. لوړې زده کړې یې په کابل پوهنتون او سویس کې پای ته رسولي. لاهو په پښتو او دري لیکنې کوي په انګلیسی او المانی ژبو هم پوهیږي. نورمحمد لاهو د اشیاو د شاعر په نامه په خلکو کې شهرت لري. نور محمد لاهو د کره کتونکو له نظره ځان ته د ځانګړي سبک او لارې خاوند شاعر بلل کېږي.

**د لاهو چاپ شوي آثار:**

1. بلال په وینو کې (شعري ټولګه). ښاغلي سید شاه سعود او اروابناد اسحاق ننګیال پرې سریزې لیکلي دي دواړو لیکوالو نوموړی د جلا لارې او سبک خاوند شاعر بللی دی.
2. د شاتو سیند (شعري ټولګه).
3. ټکي سرې سترګې (لنډې کیسې).
4. دغوا دیګی (د ماشومانو لپاره نکلونه).

**ناچاپ آثار:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

1. زرو جانه (ناول).
2. د غره د سر بادونه (ناول).
3. راشه کنه مرم درپسي (ناول).
4. اوښکه په لمبو کې (ناول).
5. شپې او ځراغونه (شعري ټولګه).

همدارنګه د نورمحمدلاهو په لسګونومقالي د افغانستان د یو شمیر ورځپانو او مجلو له لارې خپرې شوي او د درې سوو په شاوخوا کې یې راډیویي ډرآمې لیکلی چې د سیمه ایيزو راډیوګانو دلارې خپرې شوې دي ...»
څنګه چې مخکې یادونه وشوه ښاغلي نعمان دوست د خپل یو سیال او ملګري لیکوال شاعر او ژورنالست نور محمد لاهو د کارونو او شعرونو په باب خپل نظر ځرګند کړی و. ما چې څنګه د نور محمد لاهو په باب د نعمان دوست نظر ولوست، ډېر ورته خوشاله شوم او دا هیله راته پیدا شوه چې شکر زموږ د ټوپکي هیوادوالو برخلاف اوس زموږ قلموال نه یوازې دا چې یو د بل پر ضد نه درېږي، بلکې د خپلو نور ملګرو د مثبتو کارونو او لاسته راوړنو صفت هم کوي او داسې یې په نیکو یادوي چې د راتلونکو نسلونو له پاره د مینې او صمیمیت او درناوي د یو دود په ډول رواج مومي. دا کار له یوې خوا د یاد قلموال د فرهنګي کارونو ارزښت او درناوی پر ځای کول دي، له بلې خوا د لوستونکو او راتلونکو نسلونو له پاره د مینې، صمیمیت او درناوي یو لوی پیام هم لېږدوي.
دا هم د ښاغلي نور محمد لاهو په باب د ښاغلي نعمان دوست د لیکنې بشپړ متن:

«د غرمنې په وقفه کې یې راسره پر شاعرۍ خبرې وکړې. د ژورنالیزم دي ترایڼرې، غالباً د بایرن او لانګفلو دوه درې شعرونه راته ووېل او بیا یې په توصیف کې داسې موسکی موسکی کېده؛ لکه د خپلې ژبې په قوت چې نازېږي.
زه هم خاموش پاتې نشوم. په ګوډه ماته انګرېزي مې ورته دا رباعي ووېله:

د شین خال په ځای دې زه وای
چې پـه زنـــه دې ویـــده وای

کـه امـکـان د بـوسي نـــه وای
رانـژدې خو به دې خـولـه وای

یو دم، د ښاریانو په خبره، هیاجاني شوه. ما ویل لکه چې ترجمې پسات وکړ، کیسه خرابه شوه او دا ځکه چې، ستاسو مخې ته دې درې متره او پنځوس سانتي سیمټي دیوال وي، د هغې پر زنه هم خال و. خو زما ویره بې ځایه وه؛ هغه د شعر خوږلنې په وجد راوستې وه. د بیا ویلو غوښتنه یې وکړه او بیا یې ځان سره یاداشت کړ.

دا د ښاغلي [Noormohamad Lahoo](Noormohamad Lahoo) کلام و.

خبره دا ده چې دنیا ته هر څوک د یوه خاص ماموریت لپاره راځي. زموږ لاهو شاید دې خاکي کُرې ته د دې لپاره راغلی وي چې د، اغیارو په اصطلاح، په دې دوزخي ژبه د جنتونو په څېر ښایسته شاعري وکړي، داسې شاعري چې شعرونه یې په یو ځل لوستلو زړونو کې حک شي.

لاهو، عجیبه او بې تکلفه شاعري کوي. د رنګینو خیالاتو لپاره یې الفاظ دومره په کنټرول کې دي چې دا (حیض الرجال*) هیڅ تکلیف نه ورکوي او د اعوذ (ذال) ترې په (دال)** نه بدلیږي.

سختو ترکیباتو پسې ځان نه ستړی کوي. د هغه هره کلمه ساده، عام فهمه او رڼه وي، خو په همدې سادګۍ کې ترې رنګیني څاڅي.

ممکن یو علت یې دا وي چې هغه د رنګونو په امتزاج ښه پوهیږي، ځکه چې نقاش هم دی.

نن مې دا خوږ او له اوو غرونو پناه ملګرې پر زړه راوه وریده، په یو څو شعرونو یې تاسو هم خپل کړونا ځپلي حلقونه خواږه کړئ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

(۱)

اوس مي پـرهـرونـه پـه لاسونـوکي نيـولي
تـا تـه مي سوالـونـه پـه لاسونـو کي نيـولي

تـا ويل طـبـيـبـه چي پـوښتني تــه درځـمـه
ځـکـه مي زخـمـونـه پـه لاسونـو کـي نيـولي

وخته وشرميږه چي چړې دي تـشي ځغلي
مورږ ترې خپل سرونه په لاسونو کي نيولي

بـده تړږمـی ده لــه هـرچـا ده لاره ورکـه
شپـو هــم څــراغـونـه په لاسونوکي نيولي

سترګوته دي وايه چي ګوګل کي مکږه لوبي
نور نو مورږ خپل زړونه په لاسونو کي نيولي

*****

(۲)

پــه چـمـن کـي چي ګـلان غـاړه غړې شي
مــا تـه يـاده سـتـا ځــوانـي هـغـه ګړې شي

ګــرځــوم راويـشـتـي کـاڼـي دي لاسو کــي
چي ورګورم، په کي ستا څيره موسکی شي

اشنا نـوم بـه دي تـر هـغي خوله کي زبيښم
څـو د ژبـي پـه سر پـورتــه مـې پـولـی شي

*****

(۳)

غومبرو نه د اوښکو زنځير لرې کړه جانانه،
پسرلی دې زنداني کړ

*****

نور محمد چي هر چيرته وي، د شاتو په سيند کي دې لاهو وي***.

* دا خبره بده نه ده چا ويلي – په رښتيا چي شعر حيض دی د رجال

** چي د شعر فکر ور شي په لمانځه کي – د اعوذ ذال بدل کاندي په دال

( خوشحال خان ختک)

*** شاتو سيند، د لاهو شعري ټولګه»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ